ليکوال: پوهنمل حاجی محمد نوزادی نيټه ۲۰۱۱-۰۳-۱۶

# د استاد روستار تره کی نوی کتاب – يوه حقوقی سرچينه

نوی پرمختللی تکنالوژی بشر ته يوستر الهی نعمت دی چی دانسانی مغز د نه مهاريدونکو امکاناتو دلاری يی دبشری ټولنی غړو ته وړاندی کړيدی. د دغه تخنيکی نعمت پر دسترخوان می تيره ورځ د نعيمی ويب سايټ په بريښنايی کتابتون کی سترګی پر يوه نوی کتاب ولګيدی. د کتاب لوستلو سره می مينه د وړوکتوب له وخته راسره ده چی له نيکه مرغه دا اوس هم د زمان د تيرو ناخولو سرو بادونو په بشپړ ډول راښخه وړی نده. د کتاب نوم می داسی ولوست: تحليل اکادميک اوضاع افغانستان طی سه دهه جنګ. هغه می سمدستی پرانيست او پرله وامی ړاوه. دا کتاب چی تر اوسه پوری لا په فزيکی ډول نړی ته سترګی ندی پرانيستی يوازی بريښنايی بڼه لری او د نوی تکنالوژی يوه له معجزو څخه همدا ده چی کتاب له چاپ نه دمخه په ډله ايز او کتلوی ډول تر لوستونکو پوری دسترګو په رپ کی رسولای شی.

کتاب د محترم دوکتور محمد عثمان روستار تره کی د هغو مقالو غونډ دی چی ده د افغانانو د روانی غميزی پدی اوږدو کلنو کی د سرو اوښکو په رنګ ليکلی دی او اوس يی د مينه والو په غوښتنه د يوه درانده کتاب په بڼه سره راټولی کړی او غواړی چی په نژدی وختونو کی يی له چاپه وباسی. تر هغه ځايه چی زه خبر يم، د چاپولو اړين امکانات يی هم لټولی دی. بريښنايی کتاب که هرڅومره په زړه پوری هم وی، د فزيکی چاپ شوی کتاب ځای نشی نيولای او نه هم ترټولو مينه والو پوری رسيدلای شی. له همدی کبله به ښه داوی چی ليکوال يی د چاپولو چاری د امکان تر کچی ګړندی کړی.

داکتاب دوی برخی لری: لومړی يی (حقوق، سياست و دموکراسی درتلاطم جنګ) نوميږی چی له پنځو فصلونو څخه جوړه ده. د دی برخی لومړنی څلور فصلونه د ملت جوړونی په پروسه کی د قومونو رول، د سياست او حقوقو تيوريتيکی بنسټونو او عملی ډګرونو، د ناسيوناليزم او فدراليزم ځانګړتياوو، د جنګ دلاری د دموکراسی جبری تحميل او د دغی پروسی اوبيلابيلو اړخونو ته ځانګړی شويدی. د دی برخی وروستنی پنځم فصل د ده هغه راټولی شوی مناظری او مصاحبی دی چی د راز راز موضوعګانو په اړوند يی په مختلفو وختونو کی تر سره کړی دی . د کتاب دويمه برخه (مناسبات بين المللی افغانستان در تلاطم جنګ) نوميږی چی دوه فصلونه يی منځپانګه ده. لومړی فصل يی نړيوال مناسبات رانغاړی او دويم فصل يی د جنايت او جنګ څخه خبری کوی. کتاب په پايلی اخيستنی او د ليکوال سره په پيژندګلوی باندی پای ته رسيږی. د ۴۰۸ مخونو په درلودلو سره دا کتاب د معنوی درندوالی سره جوخت فزيکی درونددوالی هم لری. زما په اند به ښه داوی چی د اوسنی يوه ټوک پر ځای کتاب په دوو ټوکونو کی چاپ شی. که څه هم دا کار د لګښتونو کچه تر يوه حده جګوی خو دلوستونکو دپاره يی اسانتياوی هم بايد له ياده ونه باسو. کتاب دليکوال په يوی سريزی سره پيل او وروسته د خو تنو و تلو او پيژندل شوو پوهانو او قلموالو لخوا لکه محترم الحاج غلام محی الدين زرملوال، سعدالدين شپون، ډاکتر رحمت ربی زير کيار او اسدالله هلالی لخوا په يوليږ تقريظونو سره غځيږی. دوی هر يوه په خپل وار دليکوال په اړه ډير دستايلو وړ شيان يادکړی دی، مګر له بده مرغه په ټوليز ډول د کتاب پر منځپانګه باندی ډير لږ رغيدلی دی. خو بيا هم ځينی له دوی نه لکه محترم اسدالله هلالی د خپل اندسره سم پرکتاب باندی پخی خبری کړی او بيلابيلو اړخونو ته يی پام اړولی دی چی لوستل يی خوندور دی. پدی اړه زه غواړم د محترم شپون صاحب په تقريظ کی يوه خبره ياده کړم. ما د ده په قلم څو ناولونه په خوند لوستی دی اوکه څه هم مخامخ پيژندګلوی نه ورسره لرم، خو د پياوړی ليکوال په توګه يی پيژنم. که د ده پرځای زه وای، مابه پدغه تقريظ کی د غنمو د کندو کيسه پدغه بڼه نه وای راوړی. البته د دغی کيسی دموخی او مفهوم سره زه په بشپړ ډول همږغی يم مګر دځرګندولو بڼه ی پرځای نه بولم.

لوړی څوکرښی هغه څه دی چی له مخی يی د کتاب کره وړه پيژندل کيدلای شی، خو د کتاب منځپانګه يی ډيره بدايه ده. ليکول د افغان غميزی سره په تړاو او د دی ناورين څخه د وتلو په هيله دکرکيچ راز راز اړخونه په پوره زړه سوی سره څيړلی، د ټولنيزو پديدو تاريخی ريښی يی راسپړلی دی او د قوی منطقو پر بنسټ يی هغه لوستونکو ته په ګوته کړيدی. د بيلګی په توګه دی د کتاب په ۱۷ مخ کی د نړی د ملی دولتونو د ځانګړتياوو او په افغانستان کی د ملت جوړونی د پروسی په تړاو د ټولنيزو پرمختياوو بهير داسی ښئی:

**« برخی دولت های ملی چون روسيه روی انګيزه توسعه طلبی پديد آمده است. علت وجود بعضی ديګر مثل پاکستان و اسرائيل اتکاء به دين واحد بوده است. دولت فدرال امريکا از توأميت و آميزش خوش به رضای مهاجرين دنيای قديم عرض وجود کرده است. بسياری کشورهای افريقائی از جمله کانګو به مقتضای سياست استعمار از انضمام چند نقطه ستراتيژيک پا به عرصه وجود ګذاشت.**


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

**برخلاف آنچه ذکر کردیم افغانستان کشور تاریخی است. سرنوشت مردم مسکون در افغانستان را حوادث تاریخی در طول پنج هزار سال باهم گره زده و قریب بود اقوام آنرا در کورهٔ ملت واحد ذوب کند که مصیبت جنگ ناشی از تجاوز شوروی پیش آمد.**

**افغانستان نقطه تقاطع مهاجرت ها و لشکر کشی های عظیم در پهنه تاریخ بوده است. این مهاجرت ها و لشکر کشی ها به جامعه کثیر الاقوام افغانستان تنوع بیشتر بخشید و کشور را در مسیر تاریخ به محل تلاقی تمدن های بزرگ تبدیل کرد.**

**اقوام مختلف شامل ترکیت جامعه افغانی برای بار اول در سال (۱۷٤۷ م) موفق به تشکیل یک دولت ملی شدند.**

**در افغانستان دولت ملی برخلاف معمول در سائر کشور ها از طریق فتوحات داخلی یک گروه مسلط نژادی بمیان نیامد، بلکه از مجرای اتحاد داوطلبانه اقوام مختلف برای تشکیل یک اداره واحد مرکزی و استفاده از آن به قصد حفظ استقلال و مقابله مؤثر با مداخلات احتمالی خارجی عرض وجود کرد . . . . ».**

بل ځای په ۲۸ مخ کی دی دشوروی یرغل وروسته په قصدی ډول د ټولنیزو غورو اړیکو ګډوډ کول داسی په ګوته کوی:

**«. . . بدنبال جنگ و بحران ناشی از تجاوز شوروی به افغانستان حکومت مرکزی بالتدریج از میان رفت و کشور به مراکز متعدد قدرت تقسیم گردید. معنی این مطلب این است که کلیه دساتیر حقوقی ایکه در یک دولت به قصد سلطه قانون و تنظیم مناسبات اجتماعی وضع و نافذ میگردد، در افغانستان تقریباً نابود شده است. حتی دساتیر حقوق تعاملی (مثلاً ضوابط حقوقی در مورد مشوره و جرگه) تحت تأثیر ضربات ناشی از تعصبات قومی و مذهبی تار و مار شده اند.**

**در شرایط فقدان ضوابط زندگی اجتماعی ناشی از سلطه دولت و حقوق، آنچه مناسبات ذات البینی افراد را تنظیم مینماید، عبارت از دساتیر اخلاقی و مذهبی است. متأسفانه در کشور ما دساتیر اخلاقی اعم از انکه ا ز عرف و عنعنه منشأ گرفته باشد (احترام به بزرگان، مهمان نوازی، وطن دوستی، احترام به زنان و غیره) و یا از مذهب (تقوا، تواضع، وفا به عهد، صداقت و غیره) در معیار وسیعی صدمه دیده اند . . . ».**

که څه هم کتاب په ټولیز ډول په خوږه دری ژبه لیکل شوی دی خو یوه له مثبتو ځانګړتیاوو څخه یی همداده چی پښتو مقالی یی هم یو نیم ځای ګل ګل تر سترګو کیږی. ښکاره خبره ده چی د پښتولیکنو ادبی اړخ یی د دری سره ډېره نشی لګولای مګر روانه او ساده ده چی دهر کچی لوستونکی پری پوهیدلای شی. د ده ډیری لیکنی د پدیدو ژور حقوقی بنسټونه څیړی. زه که څه هم د حقوقی لیکنو سره لږ شانته عملی تجربه لرم خو د یوه معدن پوه په توګه مسلکی حقوقی پوهه نلرم، ځکه نوځانته داحق نشم ورکولای څو د ده حقوقی څیړنی و ارزوم. د بیل په توګه دی په خپله یوه پښتو لیکنه کی (۳۳۴ مخ) د افغانی کشالی په اړوند د ناټو دکړنو کره وړه داسی څیړی: « . . . . **ناټو د دې په خاطر چې په افغانستان کې خپل نظامي حضور ته مشروعیت ورکړي، د م، م د منشور په بنسټ چې اصلاً د نړیوال حقوقي نظام یوه برخه جوړوي، د امنیت شورأ تجویز هم تر لاسه کړ.**

**دلته دوه ټکي د تبصرې وړ ګڼل کیږي:**

**۱ - نړیوال قوانین هېڅکله پر ملي قوانینو بر لاسی نلري. کله چې د دواړو تر منځ ټکر رامنځته شي، ملي یا کورنیو قوانینو ته اعتبار ورکول کیږي.**

**همدغه شان د باندني او کورني مشروعیت د اصطکاك په صورت کې، په کورني مشروعیت باندې اتکاء کیږي.**

**په افغانستان کې د نړیوال ائتلاف نظامي حضور د م، م د منشور څخه مشروعیت اخیستی دی. دغه حضور د ملي یا کورنیو قوانینو او په ځانګړې توګه د اساسي قانون د حقوقي نظام څخه مشروعیت ندی تر لاسه کړی٠**

**بناً بین المللی مشروعیت (د م، م د منشور په چوکات کی) د ملی یا کورنی مشروعیت (د اساسی قانون په محدوده کی) په غیاب کی، حقوقی اغیز ایښودلی نشی٠**

**۲- د ناټو سازمان د فاعی او جګړه ایزه بڼه لری چه د تروریزم سره د مقابلی په مقصد افغانستان ته راغلی دی٠ نوموړی سازمان د خپل شته والي په منطق باندې هېڅکله د م، م، د سولې قواوو په شان سوله ییزه دنده درلودلی نشي. ولو چې د امنیت شورا ورته د «تعمید غسل» ور هم کړي . . . ».** البته که کوم حقوقپوه ته دا ډول څرګندونی د لاسپیناوئ وړ ښکاری، کولای شی په اړوند یی د حقوقپوهنی په رڼا کی خپل د نظر ټکی څرګند کړی.

د محترم پوهاند روستار تره کی د مقالو پدغه غونډ کی ډیر څه سته چی باید یادوونه یی وشی، خو زما دغه لنډه لیکنه د دی ټولو زغم نلری. د اهم دیادولو وړ بولم چی دافغانستان د اوسنی حالت څخه د وتلو په تړاو د یو څو د ګوتو په شمیر ټکیو پرته زما او د ده اندونه سره تر لویه بریده همږغی دی. هغه ټکی چی که زه ورسره همږغئ هم و نه اوسم، ماته د بشپړ درناوی وړ دی. زه غواړم د فرصت نه په ګټه اخیستلو سره د استاد تره کی څخه دهغو ګټورو حقوقی مشورو له کبله مننه وکړم چی کله ناکله یی زما د پوښتنو په ځواب کی راکوی.

- په بشپړه مینه او پوره درناوي!



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ